رڼا گل اریوبزی
۲۰۲۳/۰۲/۱۳

# دزده کړو او ښځینه جنس پر وړاندې

## د «جهاد» دوام

طالبانو دامریکا په مشرۍ دبهرنیواو دکورنیو لوټمارانواو جنګسالارانو په ضد څه ناڅه شل کاله طالبانی جهاد وکړ. د دې جهاد په بهیرکې هم طالبانو، هم یې مخالفانو او تر دواړو د مخه عام ولس زیات ځاني اومالي زیانونه وزغمل. ځنې هیواد وال په دې عقیده وو چې دطالبان دجهاد موخه له هیواده دبهرنیو شړل او دکورنیوغلونه دحکومت نیول دي، کله چې دې موخې ته ورسید ل، بیا نو جهاد پای ته رسوي، عادي حکومتولي به پیل کړي او هیواد به ابادوي. دوی دطالبانو برۍ غوښت او مرستې یې هم ور سره کولې. ځنې نور بیا په دې عقیده ووچې دطالبانو حکومت مویوځل لید لی اوازمویلی دی، دا ډله دملي دودونو، کلتوروتو، دتمدن، پوهې اومعرفت او دهرڅه دمخه د ښځینه جنس په وړاندې سرزورې دښمني اوکلکې عقدې لري، ازمویل شوي به نه ازمویو، طالبان دځان داصلاح کولوعقلي وس نه لري، خامخا به خپلو تیروکړنو ته دوام ورکوي. خوڅه مې چې دعمل په ډګرکې په خپلو سترګوولیدی هغه دا دی چې دلومړنی حکومتولس په وخت کې یې ویډیوګانواوتلویزیونونو ته کتل حرام ګڼل، هغه یې دخلکو دکورونوراایستل اوماتول یې، داکاريې په هغه وخت کې دجهاد یوه برخه بلله. خوداسې ښکاري چې په دې نوې حکومتولی کې یې دجهاد له اجندا ایستلی ده. تراوسه یې نه یوازې تلویزیونونه مات نه کړل بلکې څه ناڅه هریو یې ډول ډول سمارت فوفونه په جیبونو کې ګرځوي، په هغوی کې ویډیوګانې ثبتوي اوخپروي اونورنو خدای پوهیږي چې دڅه ډول فلمونو اوانځورونوننداړې به هم پکې کوي. سربیره پردې په بیلا بیلوتلویزیونونوکې دیوبل سره په سیالۍ کې خپلې مبارکې ږیرې هم ننداړې ته وړاندې کوي. که څه هم دشلواو پنځه ویشتوکالونوپه جریان کې دا بدلون کوم لوی تحول نه دی، خوارزښت یې په دې کې دی چې دعلمیت اوظلمت تر منځ مقابله کې بالاخره ظلمت ماتیږي اوبرې دعلم په برخه کیږي. سره له دې هم باید دعلم په ضد دطالبانو سرزورۍ ته په ټیټه سترګه ونه کتل شي، دا وروستي چارې اوکړنې یې ښیي چې دوی لا تراوسه دپوهې او دښځینه جنس دحقوقو په وړاندې دجهاد له پاره ډېام وړانرژي لري او ترې عملي کار اخلي. دحکومت تر نیولو وروسته یې ډیرومیرمنوته اجازه ورنه کړه چې خپل کار ته دوام ورکړي. وروپسې یې طالباني حجاب جبري کړه. افغاني میرمنې او ټول افغان ولس په دې عقیده وو او دې چې دښځو او جونو جامې یې داسلامي حجاب او افغاني دود سره سم دې. له دې امله یې دطاالباني حجاب په خلاف په سوله ایزلاریون لاس پورې کړچې دطالبانو له زور سره مخامخ شو. مولوي محمد علیم بسمل دالاریون دحجاب بې حرمتې وګڼله او داسلامي امارت په مشرانو یې غږ وکړچې داسې یې وځپې چې:« بیاڅوک دا ډول جرأت ونه کړي.» مولوي صاحب داعرض مې واوره چې حکومت اویا کوم نظام په ځپلو نه ځواکمن کیږي، ځپلو ته لاس اچول دځواکمنۍ نه، بلکې دسیاسي کمزورۍ اوبې وسۍ نښه ده. ښه به دا وي چې حکومت مو دځپلو په ځای په ځان کې سیاسي وړتیا پیدا کړي، ځکه حضرت عمر ( ض ) فرمایي چې:« دهر دولتي نظام بریالیتوب او قوت دچلوونکوپه عدالت، صداقت او انصاف پورې ترلی دی.» یانې دیوه نظام قوت د هغه د واکمنو « په عدالت، صداقت او انصاف» یانې معقول او ولسپاله سیاست پورې ترلی دی. داسې ښکاري چې مولوي صاحب لا نه دی خبرچې موږ افغانان اوس اوس دیو بل دځپلو کم زیات ۴۵کلن تاریخ لرو، خو تراوسه یې د حل داسې لارراونه ښوده چې سوله اوامن را ولي، ځکه په ځپلو، وهلواوژلود انسان انساني اوصاف استهلاک کیږي، ترحم، ایمان او اخلاق له لاسه ورکوي او یو وحشي ترې نه جوړیږي، نو ځکه، جناب مولوي صاحب، ښه به دا وي چې نورد ځپلو په ځای دحضرت عمر ( ض ) فرمودې ته مراجعه وکړو، دیوه بل خبرې او غوښتنې واورو، د حل لارې ولټوواویوې مفاهمې ته ځانونه ورسوو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په خواښینی باید ووایو چې دښځینه جنس په وړاندې دطالبانو جهاد په دې کړنو هم پای ته نه رسیږي. بیله دې چې معتبر شرعي سند وړاندې کړی شي، په نه تصورکیدونکې بیرحمۍ یې دجونو پرمخ دمنځنیواوثانوي زده کړودروازې« ترامرثاني پورې » وتړلې او د دې امرثاني دراتلو دنیټې په هکله طالبانوپه ډول ډول، دخندا وړ، درواغولاس پورې کړ. کله وایي چې دجونو دزده کړو له پاره داسلامي چاپیریال په جوړولو لګیا یو، بیا وایي چې په دې موضوع د« علماوو» یو کمیسیون غور کې، خوغورپای ته نه رسوي، دا هم وایي چې په دې برخه کې دخپل امیرالمؤمنین امرته انتظارباسو، خو تجروبو را وښوده چې مولا هیبت اله دعقلي، په تیره بیا په دې برخه کې دجونوزده کړو سره چندان مینه نه لري. د دې لفظي ګډوډیو نه وروسته داسلامي امارت ویندویانو، ذبیح اله مجاهد او نعیم ورد ګ، ښوونځیو ته دجونو دنه پریښودو پړه دخپل حکومت نه په ولس وروتپله اودځینو پاکستاني سیاستوالو په شان یې وویل چې دا دافغانانو، په تیره بیا دپښتنو کلتوري ارزښت دی، چې جونو ته په ښوونځیو کې دزده کړې اجازه نه ورکوي. یاني داچې داطالبي امارت نه دی چې دجونو په مخ یې دښوونځیو دروازې تړلې دي، بلکې دا په خپله ولس دی چې خپلو لورګانو یا خویندوته په ښوونځیوکې دزده کړواجازه نه ورکوي. لومړی یې دملیونو افغانانو زړونه په خنجر زخمي کړل چې اولاد ته یې په ښوونځي کې دزده کړو اجازه نه ورکوي اوور پسې یې په زخمونو مالګه هم دوړوي یاني چې، دا خلک دي چې جونه ښوونځیو ته نه پریږدي.

زه دطالبانو او دهغوی دحکومت په وړاندې کومه شخصي عقده نه لرم، په ځینو لیکنو کې مې ددوی ښې کړنې ستایلي هم دي، خو نن سبادځوان نسل دزده کړومخنیوی د هیڅ مؤمن مسلماناو هیڅ انسان دوست او هیواد دوست له پاره د زغملو نه دی. زده کړه داسلام په پاک دین کې په هرمسلمان ( نر او ښځه ) فرض او په دنیا کې دفرد او ټولنې له پاره مطلق ضرورت دی، ځکه چې داسلام پیغمبر( ص ) فرمایلي دي چې:« بې علمه عمل تباهي ده. » دتباهی نه دځان ژغورلواو د سوکالی په لور دتللو لارد علم زده کړه ده. طالبانوپه دې بې علمه عمل د هیواد دځوان نسل نیمه برخه اوپه پایله کې ټول هیواد دتباهی په لور روان کړی
دی. داعمل په ښکاره داسلا ضد عمل دی، دا د بشریت او د ملي ګټو په ضد عمل دی او دا د دین په وړاندې جنایت او دملت په وړاندې خیانت دی. نو ځکه مو په دې احمقانه عمل دټول افغان ولس، دټولې اسلامي نړۍ او دټول جهان نفرین ترلاسه کړی دی.

طالبان خو باید له سره دزده کړوپه هڅه کې وي ، خو داسې راته ښکاري چې افغاني طالبانویا دزده کړو سره پریکړه کړې ده او یایې ظرفیت نه لري. دوی د دې پرځای چې دخپلوکړنو حقوقي اړخ او یادهغوی په وړاندې دخپل ولس او دټولې نړۍ غبرګون په پام کې ونیسي او په هغه یو څه غور وکړي، دښځینه جنس په وړاندې خپل نامقدس جهاد ته دوام ورکړ. د جونو پر مخ یې دپوهنتونودروازې بیا« ترامرثاني پورې » وتړلې او په غیردولتي مؤسیسوکې یې دښځو په کاربندیزولګاوه او په پاکلمنو میرمنو پسې یې تورونه هم پورې کړل. دا نه وایم چې دلته یا هلته به له سره سرغړونه نه وي شوي، خو لومړی هره سرغړونه کره ثبوت غواړي او دوهم داچې ګناه فردي ده اود یوه فرد په ګناه ځوک ټول عالم ته جزا نه ورکوي او دریم دا چې دګناوو تیروتنې داصلاح کولو لارې چارې هم شته دي. او دې ته هم باید پام ونیسوچې دګناهونواو فسادونوسرچینه کاراوزیار نه بلکې بې کاري او بې روزګاري ده. حضرت لقمان حکیم (ع) فرمایي چې:« بې روزګارۍ اړتیا منځ ته راوړي اواړتیاپه دینداري کې خلل اچوي، فکر ته زیان رسوي او مروت له منځه وړي.» نوځکه حضرت عثمان ( ض ) فرمایلي دي چې:« تر ټولو خوار کسب هم دلاس غځولو( خیرات غوښتلو ) نه ډیر فضیلت لري.» د خپلو مېتواومغزپه ستومانولو دځان اواولاد له پاره حلاله روزي ترلاسه کول فضیلت دی، له همدې امله داسلام پیغمبر ( ص ) فرمایلي دي چې:« د پاک اوحلال کسب لټول فرض دي.» دکسب تر لټولو دمخه باید کسب زده کړشي، نوځکه د یوه اسلامي دولت دیني اوملي دنده داده چې ولس دکسبونو،علوموواوفنونو زده کړوته وهڅوي او دامکان ترپولې پورې ورته دزده کړو ښه شرایط اودکار فرصتونه برابر کړي.په کار کسب اوزده کړوبندیز دخدای ( ج ) اورسول ( ص ) لارنه ده، دالارداسلام، دانساني حق او دملي ګټو خلاف لارده. دا د طالبانو هغه لارده چې د دوی په وړاندې ترټل هرڅه زیات دولس قهراوغوسه راپاروي، طالب تجریدوي او ما ځکه ځوروي چې د طالبانو دا سیاست جنګ ځپلې هیواد او ملت ته لاتر تیرو زیاتې وحشتناکې پایلې لري. دا لارد جهاد لار نه ده، دا دفساد لارده. داسیاست باید ترهرڅه د مخه له سره ترکره کتنې لاندې ونیول او اصلاح شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ